انجنیر سیدعبدالقادر


۱۸ اپریل ۲۰۱۵

## دپاک تکبیر (الله اکبر) تر‌ږغ لاندی دتنظیمی جهادیانو غلا وی اووژنی

**لومړی برخه:** په اسلام کی جهاد څه ته وایی اودافغانی جهاد هدف څه وو:

**ددوهمه برخه:** په اسلام کی دتکبیر (الله اکبر) لومړی لوړ ږغ څه وخت وو:

**لومړی برخه:** داسلام دظهورپه وخت کی جها دپه اصطلاح کی د هغه مقدس جهد ، اوکوښښ څخه عبا رت وو، چه دیوه مقدس هدف له پاره اصحابو دنبی علیه سلام ترقیادت لاندی مخ ته بیوی. دا هدف داسلام مقدس دین ته وسعت ورکول ، دتعرض اوظلم په وړاندی تبلیغ ، مقاومت دمظلو مانو او غریبو سره کومک کول وه .دجهاد دعربی کلمی لغوی معنا د توپک اوتوری داخیستلوپه معنا نه ده ، بلکه دجهد اوکوښښ په معنا ده ، داچه داجهد یو انسان پر کومه یعنی (ښه یا بده ) لاره کی کوی دا دهغه کار دی . الله پاک (ج) هرانسان ازادپیدا کړی اوحق لری چه دژوند په مختلیفو برخو کی دخپل ځان اوکورنی د ژوند دسمون په نیت اوځینی بیا دخپل ولس دښه ژوند دراوستلودپاره کوښښ یعنی جهد اوجها د کوی ، چه فاعلین ددی ټولو کړونو بیا د مجاهید ینوپه نامه یا دیږی . کیدلای سی چه دا کړنی ښی دولس په ګټه اویا بدی دولس په تاوان وی، یا یوازی دیوه شخص او یا یوه ګروپ په ګټه وی .دبیلګی په توګه ، زموږ په افغانی ټولنه کی یوشخص یا اجتماعی ، سیا سی جوړښت کوښښ کوی چه وخپلومخو ته درسیدو دپاره دولس په ګټه یا تاوان بعضی کړنی په مساالمت آمیزه یا قهرآمیزه توګه ترسره کړی، کولایسوچه دافاعلین(فعل کونکی ،شخص یاډله) دجهاد دلغوی معنا درویه د مجاهد او مجاهید ینوپه نامه یادکړو .

اوس نو که یوشخص ، تنظیم یا سیاسی ګونداداعا وکړی چه موږجهاد کړی دی مجاهدین یو ،باید پوښتنه ځنی وسی ، چه څه موکړی دی ، که یی ښه کار ونه تر سره کړی وه ، نو دپاک (مجا هد، مجاهد ینو) په نامه اوکه یی بد دولس په تاوان کړنی تر سره کړی وی ، نوبیا دیوه جنایت کار(مجاهد، مجاهد ینو) په نامه یادیدلایسی .او په دی حالت کی دوی باید دخپلو ناروا کړونو له کبله محکمی ته معرفی اوحساب ورسره وسی . دافغان تنظیمی ګرپونو مشران جهد یعنی جهاد معنا اوپه هغه کی بیا په جهادکی دقهرمانی تعبیر دکرزی د معاون خلیلی دخرګندونو په هغه برخه کی ښه معلومیږی، کوم چه دعبدالحق جهادی قومندان دوژنی د(۲..۱) کال دلومړی تلین په جلسه کی کړی وې ، دخبرو په یوه برخه کی داسی وویل : دکابل پر ښاردراکټونو اورول ، دکابل ولایت د

مکتبونو سوځول اودکابل پرښا ریانو باندی دماهی پر دبرق قطع کول دا د قومندان عبدالحق دجهاد د قهرمانۍ ځخه بلل کیږی .(دادبی بی سی په ارشیف کی شاید اوس هم شتون ولری ) . دخوښی ځای دی چه په اوس مهال ټول افغان ولس په دې باندی پوهیږی، چه دی تنظیمونوداجهاد د سی آی ای ، عربی وهابیا نو، ایران او آی اس آی ترمستقیمی لارښوونی او دهغوی دنامشروع مخو یعنی د (دافغان ولس یرغمولو، وژلو ، ملی شتمنیوچورولو دوطن ویرانولو ) ته درسیدو دپاره کړیوو، ځکه نوډیرو ناپاکو اوغلو ودې ناپاکی پروسی ته ځانونه ور وا چاول ، اوترڅنګ یی دبهرنیو استخبا راتو دډا لرو ، تبلیغا تو اوتوپک په زور یو شمیر بیسواده اوپاک افغانان یی هم کور دننه اودمهاجرت دخیمو څخه بیا دسوخت دموادو وپه توګه ودی ناروا اوافغان ملی ګټوضد پروسی ته ور داخل کړل ،، چه ډیریی په شهادت ورسیدل، وځنګ ته یی داستخبا راتوپوری اړوند رهبران او قومندانان بیا ژوندی پاته سول.

د جهاد دلغت دمعنا او تعریف له رویه ویلایسوچه ، ددې چور اوچپاول دپروسی ټوله فاعلین یعنی تنظیمی غړی هم دمجاهید ینو په نامه یادیدلایسی ، دبله طرفه چون ددوی کړنی داسلام اوافغان ملی ګټو سره په تقابل یعنی ضدیت کی قرار درلو دی اوپه لکونوپا ک انسا نان یی د استخبا راتو په قو مانده په شهادت رسولی اودوطن لویه برخه یی په کنډواله تبد یل کړی ، اوځا نونه په غیری مشروع توګه دسل ها وومیلیونونوډالرو خاوندان کړیدی، ځکه نوولس دوی دغلواوجنایت کارومجاهد ینو په نامه یادوی. او دافغان ولس په منځ کی اورو چه پر جهادی رهبرانو اولویو جنګ سالرانو یی د فرعونانو نومونه هم ایښی دی ، داځکه چه ددوی کړنی یی دفرعون سره یوشی بللی دی. دافغا نستان په تاریخ دا لومړی ځل دی چه پر ځینو واکمنانو باندی دفرعونانو نومونه ایښول کیږی. ددې تنظیمونو ،امر یکا ، پاکستان،ایران اوعربی وهابیا نو په هکله دشهید ډاکتر نجیب الله* ټوله وړاند وینی او خبرو دحقیقت بڼه خپله کړل ، افسوس دا چه زموږ ولس ډ یر ناوخته پوه سو .لازمه ده چه ووایو ، افغان ولس هغه وخت ددی جهادی غلوڅخه ځان ژر ازاده ولایسی ،چه سیاسی ملی ګوندونه دملی ګټو په رڼا کی دتفاهم دلاری خپل ځان یو موټی اودولس غوښتنی په یوه ږغ تر ملګو ملتونو او اشغال ګروترغوږو پوری ورسوی ، اودې پاکی ولسی مخی تررسیدو پوری خپل کوښښ اوجهد ته ادامه ورکړی. باید ووایو چه داسلام دظهور څخه ځولسیزی په ځانګړی توګه دخلفای راشدینو ترخلافتونو پو ری پاکی دی جهادی لړۍ په پوره امانت داری اوصداقت ادا مه وموند له . دې راشدینو خپل ځا نونه دملت دشتمنیودسا تلو اصلی مسئولین بلل .دلته به دملت سره دهغوی درښتینی وعدو او عملی کړونوڅو بیلګی رانقل کړو،اوبیا به وګورو چه د پردو په لاس جوړسوو تنظیمونو رهبرانو اوقومندانانو دجهاد دشروع په ځانګړی توګه دحاکمیت دنیولو څخه بیا تر نن ورځی پوری په څو نه پراخه اندازه بشری اواقتصا دی جنایتونه ترسره کړی ،اوهیڅ یو یی محکمه سوی هم نه دی ، داځکه چه کرزی هم نه یوازی ددی ضد اسلامی جهاد دعضویت افتخار لری بلکه په (۲..۱) کی ټوله یوځا ی دسی آی ای په کښتی کی دهغوی تر امنیت لاندی دافغا نستا ن داشغال دپا ره په داسی حال کی راغلل، چه کرزی دسی آی ای دغړی (شپایدر)او د شمالی تلوالی غله بیا دسی آی ای دغړی (ګری شرون )ترمشری لاندی خپلی توطیی یی مخ ته بیولی (چه په ۲..۱ کال کی دد ی تنظیمونو دوطن پلورنی پروسه دګری شرون په کتاب ،«مأموریت سقوط» کی هر څه په ګوته سوی دی ) . داتنظیمونو دحا کمیت دنیولوسره سم یی لمړی یی بیت المال لویه برخه چورکړل ،چه دالړۍ تراوسه پوری هم ادامه لری. دخلفا یی راشدینو په وخت کی دملت اوبیت المال سره داسی چلند کیدی : د محمد ( ص ) دوهم یار عمر بن خطاب ( رض ) په یوه خطبه کي وخپلو خلګو ته داسي و ویل :

زه ستاسو دمال ( بيت المال ) داسي ساتونكي يم لکه يوڅوک چی ديوه يتيم ساتونکي وي ( زنده گي اجتماعي اقتصادي عمر بن خطاب رض صفحه ۳۱۶ ) .

داڅر ګندونی تا سوتنظیمی جهادیانواوګوډاګی کرزی دپا ره دشرم اوخجالت ځای دی، څکه هرعمل مو داسلام اوافغانيت ضد ترسره کړی دی. تاسو جها دی ټيکه دا را نو دحا کميت په لومړی ورځ د بيت المال په چوړولو شروع وکړل. تاسو په خپل حاکميت کی داسلام کوم رکن پر ځاي کړي دي ؟ کرزي هم د خپل حاکميت په کلونو کی دخپل صلاحيت څخه ليري دملت دشتمنيوډيره برخه دخپلی کورنی ، جهادی غلو او دغرب څخه راغلی يو شمير تکنو کراتانو تر منځ داسی تقسيم کړله، چه هغو ته يی دنوروغلاوو زمينه هم مسا عده کړله. دولس په منځ کی ددوی دغلاوودډيری رسوايی وروسته کرزی دپاک خدای( ج ) اوولس څخه دبيری اوشرم پرته دری کاله مخ کی په يوه غونډه کی داسی وويل :زه خبر يم چه يوشمير کسانو اختلاس اودمځکو غصب کړی دی ،زه درته وايم چه دا پيسی په وطن کی مصرف کړی ،نوروملکونو ته يی مه وړی .کرزی چه بله هيڅ ګناه ونه لری په دغو ځرکندونو باندی بايد محکمه ځکه سی چه دبيت المال غله يی نورو غلاوو ته هم تشويق کړل .

کرزي اونوی ولس مشرته : يوه ورځ عمر ( رض ) دمصر او شمالي افريقا جمهوررئيس ( عمر و بن عاص ) ته وليکل : چی ماته خبر رارسيدلي دي چی ته ډير ثروت خاوند سوي يي ، په ټول مصر او شمالی افريقا کي دا خبرهم خپور سوي دي . او پر دي ماموريت تر انتخاب دمخه دداسي لوي ثروت خاوند نه وي ، ماته توضيح راکړه ، چی دا دي له کومه کړي دي هغه دده دليک په ځواب کي د خپل ثروت په هکله ډير دليلونه ورته وليکل ، مګرد عمر (رض ) دقبول وړ ونه ګرځيدل . او ورته يي وي ليکل چی ... محمد بن مسلمه مي درواستاوه او وظيفه مي ورکړي ده ، چی ټول مال دي مصادره او دخلګو تر منځ تقسيم کړي ( صفحه ۳۴۴ ) . کرزي صاحب تاسو بيا بشري او اقتصادي جنايتکاران تر خپلي ږيري لاندي د محکمي څخه ليري و ساتل اودهغو څخه دی نورهم وحشی ليوان جوړکړل. عمر خطاب(رض) دخلافت په دريمه ورځ خپل ولس ته د اوږدي خطبي په يوه برخه کي داسي وويل : څوک چی پر بل چاه باندي ظلم وکړي او يا دبل چا ه پر حق باندي تيري وکړي ، ني پريږدم تر څو دمخ يو اړخ يي پرمځکه کښي نږدم اودمخ پر بل اړخ يي خپله پښه کښي نږدم تر څو وحق ته نه وي تسليم سوي . زما دتند طبيعت سره بيا هم خپل سر دسالم او پرهيزګار انسان په وړاندي کښته کوم . او تاسي پرما باندي حق او حقوق لري ، هغه بايد زما څخه وغواړي ( صفحه ۳۶ ــ ۳۷ ) .تمت با الخير

نوربيا .

۱۵.۲-۴-۱۷

***يادداشت:***

**- همان طوری که قبلاً نيز نگاشته ايم، باز هم بايد تذکار دهيم که از نظر ما به همان سانی که رهبران مجاهدين عوامل استخبارات بيگانه و مزدور اجانب بودند، به اصطلاح «حزب دموکراتيک خلق» در کليت خود نيز يک حزب مزدور بوده، افراد و اشخاصی که در رهبری آن نهاد قرار داشتند، همه بدون استثناء عامل استخباراتی بيگانه و جاسوس روسها بودند، از جمله داکتر نجيب الله جلاد خاد به استناد اسناد افشاء شده از «ک. ج. ب.» توسط متروخين، يک تن از جواسيس اتحاد شوروی سابق بود.*

*در همين جا بايد بيفزائيم نبايد نفرت ما از رهبران خود فروخته و جنايتکار مجاهدين باعث گردد که از يک سو به مبارزۀ آزاديخواهانۀ مردم ما عليه استعمار روس شک نمائيم و از جانب ديگر، جنايات رهبران جنايتکار و*

*وطنفروش خلق و پرچم من جمله داکتر نجیب الله را نادیده بگیریم. عکس قضیه به ارتباط رهبران مجاهدین نیز صدق می نماید.*

**- به ارتباط مقایسهٔ رهبران جهادی امروز با رهبران صدر اسلام من جمله «خلفای راشدین» اصل «قیاس مع الفارق» را نباید از یاد ببریم؛ چه عملکرد آن رهبران در مواجهه با مردم خودشان هر چه بوده، نباید بدان معنا دانسته و تبلیغ گردد که گویا آنها در بلاد مفتوحه جنایت و قتل عام ننموده اند.*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*